AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

سرتور ملنګ ۲۰۱۲/۰۲/۱۰

# د سولې اوږده لار

له کومه وخته چې د طالبانو سره د سولې د خبرو د پیل کیدو آوازې خپرې شوی او طالبانو په قطر کې خپل دفتر پرانستی ډیرو د نظر خاوندانو ور باندی خپل نظریات څرګند کړی دی ځینو خپله خوشحالی ښودلی او د سولې له خبرو یی ملا تړ کړی او هیله مند شوی چې ګوندی دسولی د خبرو سره به په هیواد کې د جګړې تغر ټول شی ولی ځینو نورو بیا لا له مخکی دا خبری بیځایه بللی او خپله نا رضایتی یی څرګنده کړی او عجیب او غریب پیشنهادونه یی وړاندی کړی دی که سپینه خبره و کړم نو هغه دا چې د نظار شورا غړو او د نورو جنګی ډلو مشرانو چې تل یی د ملت ګټې تر خپلو ګټو قربان کړی او خپله نیکبختبی یی په جګړو کې لیدلی او هر کله چې د سولې خبری رامنځ ته شوی او د سولی پلان جوړ شوی نو دوی یی مخالفت کړی او هغه پلانونه یی شنډ کړی په کومو کی چې د ملت آرامی او د دوی په زیان وو اوس یی بیا د سولی له خبرو سره خپل مخالفت ښوودلی کله وایی چې طالبان باید آساسی قنون و منی او جګړه بنده کړی او کله وایی چې د سولی خبری باید په افغانستان کی د دوی تر نظر لاندی وشی مګرم دوی باید پوه شی چې دا خبری هغه چا له طالبانو سره شروع کړی چې دوی یی د ښمڅو څخه را و ایستل او د قدرت په ګدی یی کینول او اوس د میلیونونو ډالرو څاوندان دی او س همغه خلک غواړی د طالبانو سره خبری وکړی او دا هم امکان لری چې نور د دوی تغر ټول کړی او د دوی په ځای طالبان را ولی دوی هسی بیځایه لافی وهی چې که د دوی خبرو ته غوږ و نه نیول شی نودوی به دنیا په بل مخ واړوی د دوی زور او میړانه ټولو لیدلی او زموږ په یاد دی چې کله طالبان را ورسیدل نو دوی ټولو پښی لوڅې منډی وهلی ځینی یی تاجکستان او ترکیه ته و تښتیدل او نورو یی د پنجشیر ښمڅو ته پناه یوړه. دنظار شورا له لافو به تیر شو را به شو دی ته چې آیا دا خبری به ثومره بریالی وی زما په نظر تر هغو پوری چې د جګړې عوامل ورک نشی دا جګړه نه ختمیږی ما په یوه بله مقاله کی د جګړی عوامل په لاندی توګه په ګوته کړی وو:

۱. داخلی عوامل لکه د کرزی بی کفایتی او په دولت کی د جنګسالارانو مو جودیت.
۲. خارجی عوامل لکه د پاکستان او ایران مداخلی

داخلی عوامل کله چې په ۲۰۰۱ کال کی د اکتوبر په ۶ امریکا په طالبانو حمله شروع کړه او د یوی میاشتی په موده کی یې د شمالی ټلوالی په مرسته طالبان مات کړل نو د جګړی تغر ټول شو طالبان څوک کورو ته ولاړل زیات شمیر یی په مزار او قندوز کی و نیول شول او په دشت لیلی کی ژوندی تر خاورو لاندی شول او نور یی پاکستان ته ولاړل او هلته هم پټ اوسیدل، د بن کنفرانس جوړ شو په دی کنفرانس کی ټول هغه پخوانی جنګسالاران اوجنایت کاران چې د دوی له لاسه د کابل ښار په کنډواله بدل شو او تر ۷۰۰۰۰ زیات بی ګناه کسان ووژل شول په لکونو نور مهاجر شول او دخلکو په عزت او ناموس لوبی و شوی بیا د قدرت واک ته ورسول شول. زما په یاد دی چې کله امریکا په کابل د حملی پلان جوړاوو نو هره ورځ به په سلهاو کورنی د کابل له ښار څخه وتلی او دوی به ویل چې دوی د امریکا د حملی له خاطره نه وځی بلکی دوی د شمال تلوالی له ډاره د ښاره وځی چې دو ی به بیا د خلک په ناموسونو تجاوز و کړی او د دوی شتمنی به چور کړی دوی د خپل قدرت په وخت کی د کابل په ښار کی داسی جنایت و کړل چې د بشریت په تاریخ کی یی ساری نه وو لیدل شوی د کابل په ښار کی به هره لحظه د توپونو ډزی وی او هره لحظه به بیګناه انسانان وژل کیدل او د خلکو ټوټّه ټوټه جسدونه به په سرکونو پراته وو د ابشارو او کارته سه جنګونو او عام وژنی چې په هغو کی ښځی ماشومان سپین ژیری اوځوانان یوازی د قوم په لحاظ له یوه سره ووژل شول اوپه ښځو باندی د کورنی د غړو تر مخ تجاوز وشو د ټولو په یاد دی. د پښتون په نامه په داشونو کی د خلکو سوځول، د خلکو له کورونو د هغو ناموسونه را ایستل او د خلکو شتمنی لوټول د دوی په و خت کی عادی او روزمره کارونه وو د منډه یی او پل باغ عمومی او سرای شهزاده د د کانونو لوټول هغه څه وو چې په سلهاوو میلیونو ډالره د خلکو سرمایه په رڼا ورځ د همدغو ډلو له خوا چور شوه.د کابل خلکو به ویل او دعاوی به یی کولی چې خدای د هندو ، یهود او شورویان راولی تر څو موږ د دغو بی پته خلکو له شره خلاص شو ولی امریکایانو او غربیانو همدغه جنایتکاران یوځل بیا را وستل او د قدرت په ګدی یی کینول دغه د غلو او جنایتکارانو ډلو دهغه تعصب له مخی چې د پښتنو سره یی لرل امریکایانو ته هر پښتون طالب معرفی کاوو او امریکایانو هم بی له کومه سنجشه د پښتنو کورونه بمباروول او د هغو د ودو او خوشحالی په مراسمو یی بمونه غورزول. له بلی خوا امریکایانو داسی یو څوک د ولسمشر په صفت واک ته ورساوه چې هغه په خپل ټول ژوند کی د دولتی کارونو تجربه نه درلوده او یوازی دوه میاشتی د خارجه چارو معین وو چې بیا د فهیم له وهلو وروسته و تښتیده او د هوتلداری په کارونو مصروف شو، کرزی که له یوی خوا د کار کولو تجربه نه درلوده له بلی خوا سخت په چوکی او قدرت مین وو د هغه لپاره خلکو او وطن ته خدمت کول کوم ارزش نه درلود او یوازی یی غوښتل چې دی په قدرت کی پاته شی د کرزی کورنی او د ده د کابینی او دولت کارمندانو چې تر ۹۰ فیصده زیات یی پخوانی د


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

غلو او جنایت کارانو دډلو مشران دی په چور شروع وکړه. قضا ، پولیس ، څارنوالی وزیران والیان ولسوالان ټول د غلو په حزب کی شامل شول او د چور لړی پیل شوه . کرزی له ډاره په خپل ټول دولت کی حتی یو نفر هم د غلا او چور په تور و نه نیول او محاکمه نه کړ او با الاخره یی پی په یوه کنفرانس کی وویل چی رشوت او غلا خو کوی هغه خو خیر ده مګرم دا پیسی خارج ته مه انتقالوی دا وه زموږ دجمهور ریس سپآرښتنه. افرین په داسی یوه جمهور ریس، د ملی شورا انتخابات او د کرزی بی صلاحیته اقدامات د افغانستان د تاریخ تور داغ ده.

د دی ټولو ناوړه چلندونو پایلی دا شوی چی خلکو له دولت نه لاس و اخیست او د ولس او دولت په منځ کی واټن پیدا شو خلک مجبور شول چی طالبانو ته مخه کړی او د هغو حمایه و کړی په ولایتونو کی والیانو داسی کارونه و کړل چی خلکو با الکل له دولتی ارګانونو نه امید ختم شوځکه هیڅ کار بی رشوته نه خلاصیده نو خلکو څه کول چی دولت ته ورشی اویا هغه حمایه کړی. هغه دعوا به چی په دولت کی په میاشتو میاشتو د رشوت ورکولو سره سره نه حل کیده طالبانو به په یوه ورځ کی حل کړه. خبره دی ځای ته را ورسیده جی کرزی له ارګ څخه پولی تخنیک ته په هلی کوپټر کی ځی مګرم بیا هم خوشحاله ده چی ریس جمهور ده. په دومره بی غیرتی حکومت کول دیو افغان سره نه ښایی. زما په یاد ده چی کله ربانی جمهور ریس وو نو وزارت دفاع ته یی امر کړی وو جی د دوهمی حوزی مخ ته یو دفاعی کمر بند جوړ کړی په دی مانا چی که طالبان دوهمی حوزی ته هم را ورسیږی او نور ټول ښار هم و نیسی نو دا کمر بند باید دفاع و کړی او ارګ وساتی کرزی هم همداسی ده له ارګ ځخه په هلیکو پټر کی پولی تخنیک ته ځی او لا هم خوشحاله ده چی جمهور ریس ده.کرزی د بوش په دوره کی د افغانستان د خلکو د وژلو په سر امریکایی قوماندانانو ته بی شمیره د غازی آمان الله خان مډالونه ورکړه او هر یو یی د دافغانانو د وژلو په سر ونازاوو. کله چی یوه عراقی ژورنالیست بوش په بوټ وواهه او بیا بوش کابل ته راغی نو کرزی بوش ته هم د غازی آمان الله خان مدال ورکړ. آیا هغه کورنی چی د هغو طالبان په قندوز او مزار کی تسلیم شول او بیا دوستم په دشت لیلی کی ژوندی تر خاورو لاندی کړل وینی چی دوسنم د کرزی مرستیال ده نو څرنګه به د کرزی او د هغه د دولت طرفداری و کړی. همدارنګه د نظار شورا جنایتکاران.

له کنړ او نورستان نه نیولی تر فراه او هرات پوری چی هره ورځ امریکایی طیاری دا لس کاله په پشتون میشتو سیمو باندی بمبارونه کوی او کیمیاوی سلاوی استعمالوی کرزی هغه وینی او که نه؟ د دی سلاو د استعمال په نتجه کی نه تنها په زرګونو کسان مړه شول مګر هلته داسی ناروغی را منځ ته شوی چی اوس په هرکلی کی په لسګونو کسان په سرطان او نورو مرګونو ناروغیو اخته دی. کرزی چی کله پوه شو چی امریکایان و ځی نو اوس کله کله د ولس سره غمشریکی کوی او د امریکایانو نه غواړی چی د شپی تلاشی بندی کړی آیا داکتر عبدالله چی کله امریکایانو ته دا جواز ورکړی وو چی امریکایان آزاد دی چی د پشتنو په سیمو کی تلاشی و کړی خلک و نسی او بندیان یی کړی ولی کرزی دا سند محکوم نکړ. کرزی په نمایشی ډول د سولی شورا جوړه کړه چی د طالبانو سره خبری و کړی او د شورا ریس یی ربانی و ټاکه اوس نو تاسو فکر و کړی آیا ربانی سولی ته متعهد وو ایا د سولی شورا غړی څو فیصده د طالبانو طرفداران ول دسولی د شورا غړو لس فیصده هم د طالبان سره د خبرو طرفداران نه ول دسولی شورا به هم کله نا کله ویل چی که طالبان وسلی په ځمکه کیږدی او اساسی قانون ومنی نو دوی کولای شی افغانستان ته راشی او دلته کار و کړی د سولی شورا غړو یواز او یوازی د سولی په ضد کار کاوو ، هغوی پوهیدل چی که طالبان راشی نو دوی به نه وی همغه وو چی د سولی شورا غړو د سولی په ضد کار کاووا و په ملیونونو ډالر یی خپلو حسابونو ته انتقال کړل. اوس و خت او زمان د کرزی په ګټه نه ده امریکایانو خپل تصمیم نیولی او هغه وځی او دا چی په څه قسم به هغوی د طالبانو سره یوی نتجی ته رسیږی معلومه نه ده . زه دطالبانو سره دقدرت او واک د معاملی مخالف یم او که امریکایان دا ځل طالبان قدرت ته رسوی لکه پخوا یی چی د نظار شورا او جنګی جنایت کاران واک ته ورسول زه یی مخالف یم ځکه د طالبانو رهبری

د آی اس آی تر کنترول او قوماندی لاندی ده. د طالبانو عادی افراد صادق او په وطن مین خلک دی جنایت کاران نه دی او د ولس له منځه را پورته شوی خو د طالبانو رهبری مستقله نه ده او د آی اس آی تر قومانده لاندی ده ، پاکستان غواړی یو ځل بیا همغه پخوانی د طالبانو امارت را منځ ته کړی لکه تیر ځلی چی د هغو تول اختیارات د پاکستان په لاس کی وو.

۲.خارجی عوامل د داخلی عوامل په څنګ کی خارجی عوامل هم ډیر رول لری . پاکستان او ایران د افغانستان د اوسنی لانجی په را منځ ته کولو او ادامه ورکولو کی شریکان دی ، دواړه هیوادونه نه غواړی امریکا په افغانستان کی پاته شی او یا دا چی په منطقه کی پاته شی دواړه هیوادونه غواړی چی هر څومره ژر باید امریکا له افغانستانه ووځی پاکستان پو هیږی چی که امریکا له افغانستانه ووځی طالبان قدرت ته رسیږی او دلته بیا پاکستان چی هر څه و غواړی کولای شی د طالبان دولت یعنی د آی اس ای دولت نوپه همدی خاطرپاکستان د طالبانو رهبری ساتلی او حمایه کوی ، ایران هم غواړی چی په هیڅ صورت کی باید امریکا په افغانستان کی پاته نشی ایران د امریکا دښمن ده او له هری ممکنه وسلی نه کار اخلی چی امریکا ته ګوذار ورکړی.

د پورتنیو عواملو په موجودیت کی زه نپوهیږم چی د سولی خبری به څه نتجه و رکړی طالبان مستقل قوت نه دی او نه هم په تنهای تصمیم نیولای شی طالبان هغه څه وایی او کوی چی پاکستان یی وایی او غواړی د امریکا لپاره هم بل


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاریٔ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

انتخاب نشته یا به د طالبانو خواست منی چی هغه د امریکایانو وتل دی او طالبانو ته د قدرت ورکول او یا باید امریکا دلته نور هم د کلونوکلونو لپاره پاته شی چی دا کار هم امریکا نه کوی او د افغانستان اوږد جنګ امریکا له زیاتو اقتصادی ستونزو سره مخامخ کړی ده . امریکا د شورویان په شان اوس د ځان لپاره د اوږو پزه غواړی او په تیښته کی دی.
زما سره یو بل سوال ده او هغه داده چی څرنګه د نړی ۴۰ ستر هیوادونه او د ناتو ستر زبر ځواک نشی کولای دغه دوه پورتنی عوامل له منځه یوسی آیا دا په رښتیا د ناتو او د ملګرو لباره مشکله ده چی دافغانستان په داخلی عواملو کی چی۲۰۰-۳۰۰ جنایت کاران او مجرمین دی د محاکمی میز ته را کش کړی او د افغانستان خلک د دوی له شره خلاص کړی او د کرزی په ځای یو با درده وطندوسته او پاک شخص و ټاکی او د ۵ نورو کلونو لپاره له هغه سره مرستی و کړی تر څو دا وطن آباد کړی او دلته د رشوت خیانت او بی قانونی تغر ټول کړی.
همدارنګه آیا په رښتیا ناتو او د نړی ټول ستر اقتصادی قوتونه چی د ناتو ملګری دی نشی کولای چی د پاکستان آی اس آی له منځه یوسی او د هغه په ځای د پوځ قدرت یو منتخب ولسواکه جمهور رئیس ته ورکړی. ځکه زه باور لرم چی حتی جګړی ته به هم ضرورت نه وی که د ناتو ملکونه د پاکستان سره سیاسی آړیکی و شلوی او ټول ارتباطات ورسرره قطع کړی پاکستان خود په خوده سقوط کوی او که نظامی مداخلی ته هم ضرورت پیداشی باید ناتو په پاکستان کی مداخله و کړی ځکه د پاکستان آی اس آی نه تنها افغانستان بلکی ټولی نړی ته ګواښ ده که پخوا ناتو یا امریکا نپوهیده چی پاکستان د القاعدی او طالبانو روزونکی سمبالونکی او پناه ځای ده اوس خو ثابته ده چی پاکسان د دی ټولو بد بختیو مرکز ده. د بن لاندن پټون ځای و ښوده چی دا دومره تلفات او مصارف چی امریکا د القاعدی لپاره و کړل هغه د آی اس آی له لاسه وو اوس هم باید امریکا پوه شی چی د القاعدی نور مشران او د طالبانو رهبری په اسلام آباد او کراچی کی ده او د نظامی بارکونو په منځ کی ساتل کیږی. نو زما په نزد دا دامریکا او ناتو په وس کی ده چی د تل لپاره دا مشکل حل کړی او په تیښته د جګړی میدان پریښودل دحل لاره نه ده او دوی باید بیا د افغانستان خلک د پاکستان منګولو ته و نه سپاری او افغانستان د خپلمنځی جګړو ډګر و نه ګرځوی او هغه په سلهاو ملیارده ډالر چی دوی دلته مصرف کړی او په زرګونو کسان یی وژل شوی هسی عبث شاته پری نږدی.
امریکا باید په تشو او له واقیعت نه لری خبرو نه ځان و غو لوی او نه دافغانستان خلک د افغانستان اردو د پاکستان د مداخلو او د طالبانو په مقابل کی د مقاومت توان نلری دا د پاکستان پلان او هدایت ده چی طالبانو ته یی دستور ورکړی چی په هغو سیمو کی چی ملی اردو ته سپارل شوی حملی و نکړی ترڅو امریکا خلکو او جهان ته و شیی چی مل اردو د آمنیت ساتلو توان لری امریکا باید پوه شی چی هغه اردو چی هوای قواو ونلری ثقیله وسلی و نلری او د یو ډیر قوی دشمن لکه آی اس آی سره مخامخ وی هغه حتماً شکست خوری او په نتیچه کی به دلته یو ځل بیا د خپلمنځی جګړو اور بل شی د د نیا ټول جنګیالی به دلته ځای په ځای شی او افغانستان به د وزیرستان په شان یو د دهشت ګرو مرکز شی. د کوکنارو کښت به دغنمو د کښت ځای و نیسی او د افغان ولس لپاره به نوی ناورین را منځ ته شی.

په در نښت


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ